سلطان جان کلیوال ۲۰۲۰/۰۲/۲۰

# د حمزه شینواری بابا
# د وفات د ۲۶ تلین په مناسبت
## د حمزه بابا د شاعری دری اساسی اړخونه:

لیکنه او څیړنه : انجنیر سلطان جان کلیوال

د پښتو د غزل بابا امیر حمزه خان شینواری، نه یواځي د پښتو ادب په تاریخی دنیا کی، بلکی د شلمي پیړی په ادبي نړۍ کی هغه ستر او تل پاتی نوم دی چی د زمانو د ادبیاتو تاریخ به یی تل تر تله په لوی عظمت سره په یاد کی وساتی.
خمزه شینواری د ادبی دنیا په تاریخ کی یواځنی نوم دی چی په ژوند کی ورته د وخت د ادیبانو او شاعرانو له خوا د پښتو د غزل د پلار او د غزل د بابا لقب ور په برخه شویدی.
هغه پښتو غزل د نورو ژبو د غزلیزی شاعری له دودیز او روایاتی ډګر سره د انډول کولو نه ور اخوا د پښتونولی په ډګر کی هم لکه د لمر او سپوږمی په څیر وځلاوه. هغه د پښتو په غزل کی هم د غزل ښکلا اورنګینی وساتله او هم یی د پښتنی اخلاقو لوړ ارزښتونه داسی په ښکلی بڼه پکی ور ځای کړل، چی د پښتو غزل ته یی نوی ښکلا، نوی وجود او نوی جامه ور په تن کړله. همدا وجهه وه چی نه یواځی د پشتو ادبیاتو پیژندونکی، پوهان ،عالمان او منتقدین په دی قانع شویدی چی **امیر حمزه بابا غزل پښتون کړیدی** بلکی، د پښتو ژبی د ادبیاتو خارجی پوهان لکه جرمنیان،روسان د اردو ،هندی او دری فارسی ژبو ماهرانو او استادانو هم داخبره منلی ده چی «حمزه هغه غزل بول شاعر دی چی چی د پښتو په غزل کی یی د پښتونولی ټول ښایستونه، ښکلاوی او نور لوړصفات په ډیره ماهرانه او استادانه بڼه ور اچولی او د پښتوغزل ته یی ځانګری ښکلا او تکمیلی بڼه ورکړیده» (استاد عبدالاحمد جاوید د کابل پوهنتون استاد)
حمزه شینواری د خیبر په تاریخی دره کی زیږیدلی دی. ډاکټر راج ولیشاه خټک صاحب وایی «که پخوا دخیبر دره د عسکری او سوق الجیشی اهمیت په وجه د شهرت لرونکی وه نو اوس به عسکری ذهنیت لرونکی سیاح هم دی ته مجبوریږی چی و وایی د د حمزه خیبر دی.»
د حمزه بابا په غزلیزه شاعری کی دری اساسی عناصر سره را یوځای کیږی او لکه د یوه طلای مثلث یا ګولډن ټراینګل په څیرځان را ځرګندوی، دادری عناصر عبارت دی له:



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

۱ـ تصوف
۲ ـ قامی احساس
۳ ـ فن او هنریت

د حمزه لومړنی شاعری په ګُل کی تصوفی شاعری ده په دی شاعریَ کی د ده دپیر سیدعبدالستار شاه صاحب چی د دوی کورني مرشد و ښکاره تاثیر موجود و چی دوی به ورته پاچا جان صاحب وایه.

د حمزه شاعری د همدی پیر سره د خلوص نه را شروع شوه، دا طریقه د تصوف طریقه وه، چی د تصوف د جمال دا طریقه تر آخره پوری د حمزه د غزلیزی شاعری بنیادی مضمون پاتی شویدی.

د حمزه بابا د شاعری دا برخه د شعری جوړښت له مخی د ستر صوفی شاعر رحمان بابا د شاعری تر تاثیر لاندی ده . که څه هم د تصوف، پاکیزه ګي او وحدت الوجود د فلسفی دسپیڅلو خیالاتو اظهار او بیان پکی د رحمان بابا د شعر په څیر ډیر نه لیدلکیږی، خو د صوفیانه افکارو د اظهار د پاره ورته د رحمان بابا شخصیت او افکارو ضرور یو لوی اثر ورکړیدی. وګوری د هغه د صوفیانه کلام یو څو نمونی:

ما تپوس د زړه چادون ورځنی وکړو　　په خاموشه خندا سر راته ګلفام شو
اوس په خاورو بادولـو کی مـزه ده　　که هرڅو د عشق منزل راته یو ګام شو

یا داچی :

په صحبت د ښکلی یارکی لا د عشق مرض تباه کرم
مالی زیـر زبیښلی تـل وی که دیـره وی په ګلشن کی

او یا:

لکه زه سوی سکاره شوم مخ د یار خو داسی نه وو
چی اوربل کاندی په څمکه نو بهار خو داسی نه وو

تردی شاعرانه دور وروسته، د حمزه د شاعری لمنه هم د هنریت او هم د مضمون له پلوه پراخه شوه او حمزه بابا ته د خپل قوم د پیژندنی احساس پیدا شو او د غزل سفریې په ډیری زړورتیا سره په همدی لاری پیل کړ. حمزه بابا پوهیده چی د پښتنی اصولو سره د ژوند کولو ستر لار ښود استاد تر ده مخکی لوی خوشحاخان خټک تیر شویدی. د خوشحال بابا له مطالعی وروسته د ده په شاعری کی د پښتني تولنی د دودونو اظهار او د قامی مینی ژور احساس را ځای کیدل، د تصوف نه پس بل بنیادی عنصر دی چی د حمزه بابا د غزل اډانه پری ولاړه ده او په حقیقت کی ، دغه احساس د ده د غزل مرکزی مضمون کرځیدلی دی.

دلته به په دی برخه کی د ده د غزلو نه یو څو نمونی بی له تشریح او تفسیر نه وړاندی کړو ترڅو په دی قانع شو چی حمزه بابا ریښتیا هم غزل پښتون کری دی.

د هـغـو سـتـرګـو پـښـتـنـو خبری
ښـکـه درنی وی د درنو خبری

یا

له خپله هوډه یی بانه نه اوړی    بس خو! یــوه د پښتنو ژبــه ده
ژبه مو وکړه یو د بل سره نن    خوګوری! دا مو په پښتو ژبه ده
چی یوه ژبه شی، یوه ژبه شی    بس نـو هـمدا د میرنـو ژبـه ده

ډاکټر راج ولیشاه ختک صاحب د حمزه بابا د پښتنی احساس په هکله د وخت د سترو ادیبانو او شاعرانو نظریات داسی راسره شریکوی:

- حبیبی صاحب وایی: «د حمزه صاحب فن او هنر په پښتو ادب کی دا امتیاز لری چی د نورو ژبو له بښیګنو پرته یی د پښتنی خصوصیات په خپل غزل کی په ښه ډول سینګار کړی دی. اوما دی په اوسنی زمانه کی د پښتو د غزل پلار بللی دی»
- پوهاند ریښتین صاحب وایی: « حمزه صاحب په دی زمانه کی د پښتو د غزل استاد دی. .... د ده په غزلونو کی نوی خوند دادی چی د عشق او مینې شعرونو ته یی د پښتو او پښتون ولی رنګ ورکړی دی.»
- استاد قیام الدین خادم وایی: «د ده د فن مهمه خواداده چی دی ادبی کنایی او استعاری د پښتونولی د کلتور او پښتنی مسلماتو څخه تکمیلوی.»
- اجمل ختک صاحب لیکی: « که مونږ د حمزه په غزل ځومره فخر وکړو هومره کم دی، ځکه د ده غزل پیچلی نه دی بلکی په ساده پښتنی اصطلاحاتو او محاورو یی خوند ناک او عام فهم کړیدی.»
- پرو فیسور پریشان ختک وایی: « د غزل بیخی پښتو کولو کار حمزه ته پاتی وو.ځکه ورته امیرالمتغزلین یا د غزل پلار ویی، او بنده چی د ده غزل وایی او یایی اوری نو دا نه شی ویلی چی ګنی غزل د پښتو پیداوار نه دی. خو کله چی دی ځای ته اورسی:

ای عشقه سرکوزی دحد په هورته دی هوس
پښتون یــم د غیرت او د پښتو سره راځه

دلته سری وینی چی حمزه په نورو ژبو کی د مودو مودو نه راغلی عشقی روایات بدل کړی او پښتانه کړیدی.»

که د پښتو ژبی د دی پورته پوهانو او لسګونو نورو نظرونه د حمزه د غزلیزی شاعری په هکله وڅیړو نو په اسانی سر وینو چی غزل ته د حمزه راوړی پښتنی کنایی ، استعاری او د ښکلا نه جوړشوی اصطلاحات نه یواځی د غزل په نازکه ملا باندی بار شوی نه دی بلکی د پښتو د غزل خوند یی لا پسی زیات کړی او پښتو غزل ته د هنریت او ادبی فن یو نوی او خوندور جوړښت ورکړیدی. او دا خبره یی حقیقت ته رسولی چی:

ستاپه اننګو کی د حمـزه د وینـو سره دی
ته شوی دپښتو غزله ځوان زه دی بابا کړمه

هره ژبه کی شعر او شاعری تر ټولو زیات هنری او فنی ښکلا ته ځکه ډیره اړتیا لری چی که په کوم شعر کی هنریت موجود نه وی بل هیڅ عنصر نشی کولی چی شعر تل پاتی کړی او د زمانی په اوږدو کی ورته حیثت ورکاندی.

مونږ په پښتو ادبیاتو کی د خوشحال بابا او د هغه د لمسی کاظم خان شیدا له دوری وروسته وینو چی، د شعر هنری او علمی اړخ ورو ورو عامی اوولسی اړخ ته وراغوښتی او د حمزه تر زمانی پوری شعری هنریت له پامه لویدلی دی.که د کاظم خان شیدا شاعرۍ ته وګورو نو د پښتو ژبی په شاعرانو کی شیدا یواځنی شاعر دی چی د هنریت اود معنی د لوړوالی شعری حیثیت یی تر دلاسه کړیدی. شیدا چی په پښتو کی د شعرفن او هنریت کوم حد ته رسیدلی دی د نورو ژبو په شاعرۍ کی کم په نظر راځی. خو که د کاظم خان شیدا د شعر ژبه او هغه اصطلاحات چی شیدا په خپله شاعرۍ کی کارولی دی وګورو دغه د پښتو فطری ژبه نه ده نو له همدی کبله د ده په شاعری باندی عام لوستونکی نه پوهیږی اونه را وروسته شاعرانو کی داسی څوک پیدا کیږی چی د شیدا شاعری تعقیب کاندی. شیدا په خپل وخت کی هم د دی خبری شکایت کړیدی چی د پښتو ژبی لمن ډیره لنډه او تنګه ده او نه شی کیدای چی د ښکلا او خیالاتو عالی صورت پکی په اساني سره انځور شی. هغه د همدی نیمګړتیا له کبله ټول فنی او شعری اصطلاحات له نورو ژبو لکه عربی، فارسی او هندی نه اخلی او د خپل شعر وجود یی پری رغوی. دا ډول شعری جوړښتونه د عوامو د پوهیدلو د ساحی نه خاجیری او همدا سبب جوړیږی چی، تقریباً عوامی شاعری د فنی او هنری شاعری ځای نیسی او په پښتو ژبه کی دا شعری رکود د ځنی سیاسی ملحوظاتو لکه د سیکانو تسلط د پښتنو په سیمه او راوروسته بیا د انګریز تسلط له امله ،آن د حمزه بابا تر زمانی پوری را غزیږی.

د حمزه بابا د شاعری زمانه داسی زمانه وه، چی پشتو شعر هم د خپل شخصیت او ټولنیز جوړښت د پاره د داسی فنی او هنری طاقت د لرلو محتاج و چی له همدی خاوری او له همدی ټولنی نه را زیږیدلی وی ، اوکه د نورو ژبو د شعری بهیر سره یوځای روانیږی نو باید د خپل ځانګړی پښتنی خوی او بوی سره ورګډ او روان شی. دا هغه ضرورت و چی پښتون دی نه یواځی په قامی حیثیت خپل ځان نړیوالو ته ورو پیژنی ، بلکی په علمی او فنی برخه کی دی هم د خپل حیثیت خاوند شی او ددی کار د پاره د پښتو ادب د پښتنی حیثیت او فطرت نماینده باید جوړ شی. د تاریخ په دی حساسه موقع کی دا مقام د غزل د بابا امیر حمزه شینواری په نصیب کیږی. باید و وایوچی د حمزه بابا عصر داسی نه و چی ګوندی پکی د علمی ادبی شخصیتونو کمی وو. په دی وخت کی هم په پښتنی ټولنه کی سترتاریخی اوادبی شخصیتونه رازیږیدلی او ګڼ شمیر ادبی تخلیقات یی کړیدی. دمثال په توګه دغه اشخاص د شلمی پیړی د نوی پښتو ادبی انقلاب پښي ستنی وی:

استاد عبدالحی حبیبی، استاد ګل پاچا الفت، استاد قیام الدین خادم، استاد صدیق الله ریښتین، استاد عبدالرؤوف بینوا، استاد رشاد، صنوبر حسین کاکا جی،دوست محمد خان کامل مومند،قلندر مومند،سمندرخان سمندر،غنی خان غنی، عبدالخالق خلیق،نواز ختک، اجمل ختک او په لسګونونور په همدی دور کی د پښتو د ادب ستنی وی.چی ګڼ شمیر ادبی پنځونی کړیدی.

د حمزه بابا د غزل دوره د ۱۹۳۰ م کال نه را پیلیږی، دا کال د پشتون قام د سیاسی ازادی د پیل کال هم دی، او د پښتو د غزل دهنریت د انقلاب کال هم له دی کال نه را رپیل شویدی.

د حمزه د لومړی غزل مقطع داسی ده:

اړ به زاهدان په قتلولو د حمزه نه وی

خو چی د مستي نه دا بیان رندانه کوی

راځی چی د حمزه بابا په دی غزل کی د هنریت او فن اعجاز و ګورو او بحث ختم کړو:

ساقی رامی وړه تسپي او شراب دواړه

چی همدم کړمه ثواب او عذاب دواړه

زړه می ځارستا له بڼونه تاو دی کم کړه

چی و نه سوزیږی سیخ او کباب دواړه

په ځوانـی کی یا دیـو شه یا دبل شه

سره نـه بڼای مستی او حجاب دواړه

فیصله د هـوا لاس وکـړه ثالث شوه

سره وران وو ستا جبین او نقاب دواړه

یـاره قد دي قیامت شـو و حمزه تـه

ترینه هیر دی کړل حساب او کتاب دواړه

فبروری/۱۶/۲۰۲۰
تورنتو ـ کاناډا

**** **** ****

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

د حمزه بابا د شاعری دری اساسی اړخونه
S_kliwal_de_hamza_baba_de_shaeri_alkhoona.pdf